محمد هارون خپل شعشعی


۲۸ جون ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۵۶

۱۲۰- ظاهري پوهه : وګورئ : پوهه او عقل

۱۲۱- ظاهري عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي د ناسوت عالم

۱۲۲- ظُلماني عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي د ناسوت عالم

۱۲۳- عالَم او دهغه ډولونه :

د ناسوت عالَم، د ملکوت عالَم، د جبروت عالَم، د لاهوت عالم، د هستی او نيستی يا وجود او عدم عالم، علوي او سفلي يا عليا او سفلا عالم، د وحدت او کثرت عالم، بسيط او مرکب عالم، لوی او کوچنی يا کبير او صغير عالَم

عالَم  په لغت کي خلګو، دونيا، جهان، کايناتو او په هغوکي نغښتو موجوداتو ته وايي، چي عوالِم يې د جمعي حالت دئ[۱] . په تصوف او عرفان کي د بېلابېلو عالمو په اړه خبري کيږي، چي هر يو يې بېلي ځانګړتياوي اوصفتونه لري . کله کله بيايو عالَم په جلا جلا نومو يادېږي . مخکي تر دې،  چي د ډول ډول عرفاني عالَمو په باب لنډي خبري وکو، ښه به دا يې (وي) چي واردواره د صوفيانو او عارفانو له نظره ، د عالَم په مانا او مفهوم ځانونه پوه کو.

د عارفانو او صوفیانو په اند، عالَم د جوهرو او اعراضو مجموعه ده . د کایناتو هیڅ موجود تر دي مجموعې دباندي نه دئ . د عارفانو په باور د کایناتو هر موجود، دوه عالَمه لري : د هستۍ یا وجود عالَم او د نېستۍ یا عدم عالَم[٢] . ځینو، عالَم دوهم سپورۍ ( دباندني اعیان) او علمیه انځورونه ( ثابت اعیان) بللي دي . د خدای تعالی مخلوقات، اتلس زره عالمونه دي، چي په هغوکي دوه علوي او سفلي عالمونه دي[٣] .

زموږ فکور او عارف شاعر، علي محمد مخلص، په خپله لوړه عرفاني شاعرۍ کي داسلامي تصوف او عرفان د زیاترو عالمو په اړه ژوري او بحث پارونکي خبري کړي دي، چي ځیني برخي یې د عرفاني مخکښانود نظریو او انګېرنو په رڼا کي تر بېلابېلو عنوانو لاندي، له درنو لوستونکو سره شریکوو:

**الف) د ناسوت عالَم :**

عارفان، د وجود یاهستۍ عالَم پر دوه ډوله بولي : د ناسوت یا محسوساتو عالَم او د مَلَکُوت عالَم . د ناسوت عالم په بېلابېلوعرفاني لیکنو کي د « شهادت عالم »، « ظاهري عالم »، د « طبیعت عالم »، د « مشاهداتو عالم »، د « ملْک عالم »، « مادي عالم »، د « جسمو عالم »، د « خلګو عالم »، « ظُلماني عالم »، « ناسوتي عالم »، د« نفسو عالم »، د « حواسو عالم »، د « محسوساتو عالَم »، د « کتلو یا رؤیت عالم » او داسي نورو په نامه یاد سوئ دئ[۴] . د ځینو په نظر، ناسوت یا ظاهري عالم، هغه جهان دئ، چي ټول خلګ یې پېژني؛ او د معقولاتو د عالم حقیقت دئ . د همدې ځانګړتیا له مخي، ظاهري دونیا(دنیا) حقیقت نه لري؛ خونېست او معدوم عالَم هم نه دئ . په بله ژبه دا هغه عالم دئ، چي هم سته اوهم نسته . کله چي تعیُناتو او جسمو ته وکتل سي، نو نېست، هست مالومیږي؛ او په کثرت کي هست، نېست برېښي[۵] .

د اسلامي عارفانو په عقیده، د ناسوت یا ظاهر عالم په لومړي او سرسري نظر، تلپاتي او حقیقي عالَم ښکاري؛ خو په حقیقت کي داسي نه دئ . که څه هم په دې عالم کي ټول نغښتي موجودات د کتني او حسولو وړ دي؛ خو که په ځیر سره ورته وکتل سي ګرده د نېستۍ اونابودۍ له خطر سره مخامخ دي . په بله وینا، ټول مادي جسمونه په واقعیت کي د حق تعالی د همېشنۍ او رېښتني هستۍ سیورۍ دئ . ددې استدلال له مخي، د ناسوت ظاهري او مادي عالم، هغه هستي ډوله نېستي ده، چي له خپلي ظاهري او مادي وجود سره سره، رېښتینۍ اوتلپاتۍ وجود نه لري . د اسلامي تصوف او عرفان ځینو مفکرانو دا نړۍ په هینداره کي د مادي جسم له انځور یا عکس سره ورته ګڼلي ده . که څه هم د هر مادي جسم تصویر، له ورایه په هینداره کي ښکاري؛ اما سره له دې هم په هینداره کي هیڅ مادي وجود نه لري . متصوفین او عارفان دې عرفاني عالم ته د هغه د کوچني والي، نه پایښت اوظلي صفت له امله په ټیټه سترګه ګوري ؛ او د خپلو عرفاني لارو او پړاوو په تېرولو سره، تل هڅه کیي(کوي) چي ځانونه د بشپړتیا لوړو او لویو جهانو ته ورسیي .

مخلص، د عرفاني مقامو ارزښت ته په پاملرني سره د ناسوت په جهان کي ډوب انسان، داسي تصویریي :

ناسوتي د شریعت ځبنتن بـــاله شـــي
دئ سالک د طریقت په ریاضت ښـــه

د مخلص په یوه بله غزله کي هغه چا ته د ناپوه او جاهل په سترګه کتل سوي دي، چي د لاهوت تر لوړ عالَم یې دناسوت ټیټ عالم غوره ګڼلئ یي :

چي ناسوت مقام یې خوښ لاهوت یې ترک که

د احمق سري تمثيل کيږي و خـــر ته

شريعت مثال شوده نـاسوتي طفل

دعـارف پر اورني بلښي پروت مادر ته

په بله غزله کي د ناسوتي او لاهوتي انسان ځرنګوالي د اسي پرتله کيي :

ناسوتــي د لاهوتـــي له حالــه څه زده

د مېږه هُنـــر به څه غواړي له هيــزه

د مفکر عرفاني ليکوال او څېړونکي - شېخ عزيزالدين بن محمد نسفي (۶۳۰ - ۷۰۰ هـ ق) په عقيده، د ملک او ملکوت عالمونه، د جبروت د عالم نخښه او مظهر دئ . د ناسوت او ملکوت عالمونه ، مفصل کتابونه دي . جسم د ناسوت د عالم نخښه ده . داعالم د تياږ بحر دئ . د ناسوت يا محسوساتو عالم، له خپل لوی والي سره سره د ملکوت د عالم په وړاندي دونه کوچنی دئ؛ لکه يو ښاڅکی، چي د بحر په وړاندي کوچنی يي . حس يا حسونه، انسان د محسوساتو عالم ته رسيي؛ عقل انسان د ملکوت عالم ته بيايي؛ خو مينه او عشق انسان د جبروت عالم ته رسيي .

د شېخ نسفي له نظره ناسوت، ملکوت او جبروت هر يو بېل سمندر دئ . په هر سمندرکي څو زره مرغلري دي . په هره مرغلره يا جوهرکي څو ډوله حکمتونه يا پوهي نغښتي دي . رسول الله ( ص) په درو سرو دريابو کي غوتي وهلي دي؛ او پوهه يي وار په وار په دغو دريابوکي د خپلو غوټو او پلټنو په اندازه زياتېدله . سپېڅلي قرآن هم دحضرت پيغمبر ( ص) له همدي مرتبي سره سم، د نزول پړاوونه تېرول[۶] . دي جهان ته، په ځينو عرفاني آثاروکي د« يوم القيامة » ، « يوم الجمعه » او « يوم البعث » په نومو هم يادونه سوي ده[۷] .

### ب) د ملکوت عالَم :

دملکوت عالم، په عرفاني اوتصوفي آثاروکي د « اروا عالم »، د « غيب عالم »، د « مانا عالم »، د « معقولاتو عالَم »، « نوراني عالم »، د « امر عالم »، د « برزخ عالم »، د « مثال عالم »، د « خيال عالم »، د « زړه عالم »، د « باطن عالم »، د « مجرداتو عالم »، د « اسرارو عالم »، د « بقأ عالم »، « بي بنسته عالم »، « پاک عالم »، د « راز عالم »، د « الهياتو عالم »، د « وحدت عالم »، د « کالبوتو عالم »، د« خاوري عالم » او داسي نورو په عرفاني نومو ياد سوئ دئ[۸] .

شېخ نسفي، په خپل عرفاني شهکار ( انسان الکامل) کي د ناسوت او جبروت پرعالمو سربېره د ملکوت د عالم په اړه هم، خورا ژوري نظريي وړاندي کړي دي . د ده په اند، د ملکوت او ناسوت عالمونه د وني په څېر دي؛ خو د جبروت عالم د زړي يا توخم ( تُخم) په شان دئ . په بله وينا، ملکوت اروا او جبروت نُطفه ده . د ملکوت عالم، د نور سمندر يا د ژوند اوبه دي . د شهادت او ملکوت عالمونه، سره له خپل ټول ستروالي او لوی والي، ټاکلي ګچه او مايه لري؛ مګر د جبروت عالم، د فطرت هغه ناپايه عالم دئ، چي هيڅ اندازه او مقدار نه لري . ملکوت عالم، د ناسوت يا طبيعي عالم په وړاندي، چي د يوه کوچني ښاڅکي حيثيت لري، د بحر په څېر لوی او پراخ دئ؛ خو د ملکوت عالم سره له دي غټوالي او اَرتوالي، د جبروت د عالم د لوی والي او پراخوالي په پر تله، د يوه کوچني ښاڅکي بڼه لري . د ملک يا دونيا په عالم کي د اور، اوبو، خاورو، سرکال، پروسرکال يا نن، پرون او سبا مفهومونه رامنځته سوه؛ خو د ملکوت په عالم کي نوم او نښان پيدا سو؛ او د عقلو، نفسواو طبيعتو نومونه

ځرګند سوه . په دې توګه، د مُلک یا ناسوت عالم د اضدادو عالم، ملکوت د سمون یا ځای پر ځای کېدو عالم او جبروت د یووالي یا وحدت عالم دئ[9] .

زموږ باریک بین عرفاني شاعر ،علي محمد مخلص، په یوه غزله کي د ملکوت جهان ته د « پټ عالم » ، د « اروا عالم » ، د « غیب عالم » او د « مثال عالم » په نومو اشاره کیي :

پټ عالم، عالم مثـال ارواح زیات پټ دئ
چي یقین یي په غیب نه ایمان یـي نشته
دا لطیف، لطیف دئ غیـب لیده نشـي
څو پري کشف نه وي پټ غیب عرفان یي نشته
داپټ غیب عالم باقي دئ غیب یي چیـري
دئ کثیف کثرت فاني امـان یي نشته

په بله غزله کي د اسلامي عقیدو اودودو پر بنسټ، د طریقت عرفاني مقام د ملکوت له عالَم؛ او د حقیقت مقام د جبروت له عالم سره تشبیه کیي :

طریقت د ملکوت مقام یـاد شوئ
حقیقت د جبروت مقام حُـریت شـه

## ج) د جبروت عالَم :

کریم نیرومند محقق، په خپل تحقیقي اثر( تاریخ پیدایش تصوف و عرفان و سیر تحول وتطور آن ) کي د جبروت عالم د عقل عالم، د اروا عالم، له مادي او صورت څخه د جلا والي عالم او د الهي قدرت او عظمت عالم بللئ دئ [10]؛ حال دا چي ډاکټر سید جعفر سجادي په خپل « فرهنګ لغات و تعبیرات عرفاني » کي د جبروت عالم، د ملک او ملکوت تر منځ بېلونکي پوله یا سرحد بللئ دئ [11] . د ډاکټر سجادي داپېژندنه له یوې خوا، د جبروت عالم ته ځانګړې او معین لوری ورکیي؛ او له بلي خوا یي لوی والي او اَرتوالي ته حدود ټاکي، چي دا په خپله د هغه د محدودلو په مانا دئ . شېخ نسفي سوونه کاله مخکي په خپلو ژورو او په زړه پورو نظریو کي د جبروت د عالم په باب د ښاغلي سجادي د مخکني تعریف پر خلاف داسي استدلال کړئ دئ : « د جبروت عالم، د ناسوت او ملکوت د عالمو مبدأ، زړی او پیدا کوونکئ دئ . د جبروت عالم د شهادت او ملکوت د عالموغوندي، بهرنی وجود نه لري . د جبروت عالم ته د« نیستی یا عدم عالم »، د « ممکناتو عالم »، د « ماهیتو عالم »، د « حقیقتو عالم »، د« کُلیاتو عالم »، د « استعداد عالم »، د « فطرت عالم »، د « قوت عالم »، د « اجمال عالم »، « لیلة القدر » او « لیلة الجمعه » هم وایي[12] . » دا درې سره عالمونه ( ناسوت، ملکوت او جبروت )، یوله بله ټینګ او نه شلېدونکي اړېکي لري؛ په بله وینا دا درې سره عالمونه یو په بل کي نغښتي دي . شېخ نسفي وروسته د دې درو عالمو د نورو ځانګړتیاوو او مشخصاتو په اړه کاږي، چي د جبروت عالَم، لنډ یا کوچنی کتاب دئ؛ په داسي حال کي چي د ناسوت او ملکوت عالمونه، بشپړ او مفصل کتابونه دي . په دې مانا، چي د ملک او ملکوت په عالمو کي هر څه له لنډیز او کوچني والي څخه د بشپړتوب او تفصیل لور ته پرمختګ کړئ دئ؛ له ذات څخه صفتونه را ښکاره سوه . د جبروت عالم، بې نوم و نښانه عالم دئ؛ هیڅ بڼه او شکل نه لري . د ذات مرتبه هم داسي ده ؛ هرڅه لري او هیڅ نه لري . په دې جهان کي شات او حنظل یو خوند لري؛ شرمښ او پسه په روغه کي ژوند سره کیي؛ نور او تیاره یو رنګ لري؛ د ابلیس او آدم ( ع) ، د نمرود او ابراهیم

(ع) ، فرعون او موسا (ع) تر منځ دوښمني او جګړه نسته۱۳ . د شېخ نسفي د عرفاني نظريو پر بنسټ، ناسوت او ملکوت عالمونه، د کوچنيو عالَمو په څېر، د لوی عالم ( جبروت) مظاهر يا ښکارندوی دي . د لوی عالم ( جبروت) هر څه په کوچني يا صغير عالم ( ناسوت اوملکوت) کي انعکاس موندلئ دئ . د انسان نطفه د جبروت د عالم نخښه ده؛ خو جسم او اروا يې د ناسوت او ملکوت د عالمو نخښې بلل کيږي؛ ځکه نطفه د جسم او روح مبدأ ده . د نطفې ټول صفتونه او ګرده ځانګړتياوي په کالبوت او اروا کي څرګندي سوي دي . په دې ډول، نطفه لنډ کتاب؛ بدن او روح، بشپړ يا مفصل کتاب دئ . نطفه زړی يا توخم دئ؛ حال دا چي وجود او اروا دواړه له دې زړي څخه را پيدا سوي ونه (درخته) ده۱۴ . شېخ نسفي، په خپل بل عرفاني اثر « زبدة الحقايق » کي ليکي : « جبروت يوازي وحدت دئ . جبروت د هستی او نېستی يا وجود او عدم مبدأ ده ۱۵. » شېخ نسفي د خپلو ژورو فلسفي نظريو په دوام ليکي، چي جبروت د فطرت عالَم دئ؛ او پراخوالی يې د هيچا په فکر او سوچ کي نه ځايېږي . تر دې عالم لوی او پراخ عالم نسته . د جبروت په جهان کي داسي انسانان هم سته، چي نه پوهيږي د دوي پر خپله مځکه او اسمان سربېره، نوري مځکي او اسمانونه هم سته؛ او په هغو مځکو او اسمانو کي له عامو خلګو پرته، ابليس اوداسي موجودات هم اوسي ،چي د خدای تعالی د قدرتو په وړاندي د سرکښی جرأت کيي . د جبروت عالَم د ماهيتود عالم په توګه هيڅ پيل او مبدأ نه لري . د محسوساتو، معقولاتو، مفرداتو، جوهرو او اَعراضو ماهيتونه په کوچني او بشپړ ( جزوي او کُلي) ډول د جبروت په عالم کي موجود وه۱۶ .

د شېخ نسفي د عرفاني نړی ليد له مخي، د جبروت د عالم مخلوقات، پر خپلو ځانو مين دي؛ او د داسي هينداري غوښتنه کيي، چي خپل صفتونه پکښي وګوري . د ځينو سالکانو د زړو هينداري د جبروت د عالم له ښتنانو سره سمون نه لري؛ ځکه د جبروت د عالَم د مخلوقاتو د زړو هينداري نهايت پاکي او روښانه دي؛ خو د عرفاني سالکانو د زړو هينداري هم له عقلو او اسماني نفسوسره د اړيکو وړتيا پيدا کولای سي . د جبروت د عالم انځور يا تصوير لومړی په سماوي عقلو او نفسوکي پيداکيږي؛ او وروسته بيا د سالک زړه ته لار مومي۱۷ .

زموږ بېنادل عارف، علي محمد مخلص، په يوه غزله کي د جبروت عالم د « جانِ جان » په نامه ياديي؛ او ناسوتي کسان د ظاهربينو په توګه د باطن له دې پټه عالَمه بې خبره ګڼي :

خبر نه دئ ناسوتي له جانِ جان هـــــــيڅ
ظاهربين دئ واقف نه دئ له نهان هيڅ
جنبش ګوري جنبنده ځني نهـــــــان دئ
آواز اروي آګاه نه دئ له ګويـــان هيڅ
د باطن سترګي يي نشته چي پټ ګوري
د هر سترګي بينا نه دئ په پنــهان هيڅ

### د) عُلوي او سفلي يا عُليا او سفلا عالم :

په تصوفي او عرفاني اصطلاح، لوړ يا علوي عالَم د ملکوت او جبروت روحاني عالمو ته وايي، چي د ښکته يا سفلي عالم په مقابل کي کاريږي۱۸ . سفلي عالم، لکه څنګه چي له نامه يي مالوميږي، د لوړ يا علوي جهان په مقابل کي کاريږي . عارفان په کنايي سره د ناسوت يا مُلک عالم ( مادي دونيا) ته سفلي عالَم وايي . د« فرهنګ لغات و تعبيرات عرفانی » مؤلف، ډاکټر سجادي، د علوي جهان په ډله کي يوازي د ملکوت او جبروت د عالمويادونه کيي؛ او د لاهوت عالم يې له دې ډلي بيل ګڼلئ دئ .

## هـ) د لاهوت عالم :

د عرفاني آثاروڅېنو ليکوالو دا عالم د « ربوبي عالم »، د « ذات عالم »، د « تلپاتي عالم »، د « جانان عالم » او د « احديت عالم » په نومو هم ياد کړئ دئ[19] . د « فرهنگ لغات و تعبيرات عرفانی » مؤلف، په خپل قاموس کي يوځای د « ملکوت عالم » د « الهياتو د عالم » په نامه ياد کړئ دئ[20] . په بل ځای کي( کي يی) د « غيب عالم »، د « جان يا روح عالم » او د « قدس عالم » هم د « لاهوت عالم » په مانا ياد کړي دي، چي د ځينو عرفاني مخکښانو د نظريو له امله دجدي غور او تأمل وړ دي[21] .

د دريابو په تل کي غوتي وهونکی عرفاني شاعر، علي محمد مخلص، په يوه غزله کي د لاهوت لوړ عرفاني عالم ته رسېدل، يوازي د هغه سرسپارلي عارف ځانگړتيا بولي ، چي ځان او جهان يې د يار په ليونی مينه کي هېر کړئ يې، نه د هغه ظاهربين ناسوتي، چي د دونيا په لوشو اوکيچړوبند يي :

دلاهوت په صحرا سير د عـارف دئ
ناسوتي سير پر ملک کاندي شــايعه

***

د ناسوت په تياره ځکه غافل خوش دئ
چي لاهوت ورځرگند نه وي مخ جالعه

د بلي غزلي په يوه شاه فرد کي د ناسوت، ملکوت، جبروت او لاهوت عالمونه، په داسي ژور او ظريفانه انداز انځوريي :

لاهوت بېخ، جبروت خاش شه په درخت کښي
ملـکوت، نـاسوت يي گل، مېوه ربيطه

د اسلامي تصوف او عرفان ډېر لوړ او وتلی لارښود - لوی شېخ محی الدين ابن عربي ( ۵۶۰- ۶۳۸ هـ ق) په خپل مشهور اثر « فتوحات مکيه » کي د حق تعالی د ذات پېژندني په اړه داسي کاږي : « خدای موږ ته لارښوونه کړې ده، چي د هغه د توحيد او يووالي په باب پوهه تر لاسه کو؛ لکه څنگه چي د محمد د سورې د نونسم آيت ( ۴۷ : ۱۹) په يوه برخه کي راغلي دي : « فاعلم انه لا اله الا الله » ؛ خوالله تعالی، موږ د خپل ذات له پېژندني څخه منعه کړي يوو . لکه څنگه، چي يې د آل عمران د سورې د دېرشم آيت ( ۳ :۳۰) په يوه برخه کي ويلي دي : « ويحذرکم الله نفسه . . . » ياني خدای تاسي له ځانه منعه کيي . د ابن عربي په اند، خدای تعالی فخر العالمين - حضرت محمد ( ص ) هم د خپل ذات په باره کي له فکر کولو څخه منعه کړئ دئ . هغه د شورا د سورې د يوولسم آيت ( ۴۲ : ۱۱) يوې برخي ( ليس کمثله شی) ته اشاره کيي، چي په کايناتو کي هيڅ شی د خدای تعالی له ذات سره ورته والی نه لري . دی استدلال کيي : په داسي حال کي، چي دکايناتو هيڅ شی ورته والی نه ور سره لري، نو د حق تعالی د ذات په باب پوهه تر لاسه کول، څنگه ممکن دي[22] .

د شېخ نسفي په عقيده، د ملک، ملکوت او جبروت په عالموکي داسي هيڅ ذره نسته، چي خدای تعالی په خپل ذات سره په هغه خبر نه يي؛ ځکه د قرآني لارښوونو « وهو الطيف الخبير » ، « ان الله بکل شی محيط » له مخي د الله تعالی ذات په هر څه خبر او پرهر څه را گرځېدلئ دئ . که څوک د ناسوت، ملکوت او جبروت له عالمو سره د حق تعالی د ذات پرتله کولو په باب پوښتنه وکي، جواب يي ډېر گران او ستونزمن دئ . سره له دي

هم د دي خبري روښانه کول ضروري دي، چي د خدای تعالی ذات نامحدود او ناپايه ذات دئ؛ نه هيڅ حداو نهايت لري؛ او نه د وېشلو او تجزيي وړ دئ .

د شېخ نسفي له نظره، داسي هم نسو ويلای، چي د خدای ذات تر ټولو عالمولوړ دئ؛ تر هغه لاندي جبروت، تر جبروت لاندي ملکوت او تر ملکوت لاندي ملک يا ناسوت دئ؛ ځکه داسي ګومان او عبارت له يوې خوا پولي يا حدود؛ او له بلي خوا لورى يا جهت پيدا کيي[۲۳] . شېخ نسفي د خدای تعالی له ذات سره د ناسوت، ملکوت او جبروت د پرتله کولو په اړه وايي : « د ملک د عالم لطافت د ملکوت له لطافت، د ملکوت نازک والی او باريکي د جبروت له لطافت؛ اوپه پای کي د جبروت نازکي او لطافت د سپېڅلي ذات له لطافت سره هيڅ تناسب نه لري . د الله ذات ډېر ډېر لطيف دئ . تر حد، صفت او پوهېدو پورته دئ . د خدای ذات، مطلق لطيف، مطلق خبير او مطلق محيط دئ[۲۴] . » د قرآن کريم په بي شماره آيتوکي د الله سبحانه و تعالی ذات اوصفتو ته اشاره سوي ده . زموږ متفکر او مبتکر شاعر، علي محمد مخلص، د خدای تعالی د ذات اوصفتو همدا ژوره عرفاني مسأله، په يوه غزله کي داسي بيان کړې ده :

حق محيط په ذات، صفات له هره ځيـــزه
دی په ذات صفات واحد دئ باتميـــــــــزه
د احد په ذات، صفات کښي بېوره نشـته
دواحد پر ذات زايد صفات ناځيـــــــــــزه
حق په ذات بينا، شنوا،عليم، ګويــا دئ
داوبه په ذات لندي، سرې، پـــــــاکيزه

په بله غزله کي د وحدت الوجود د عرفاني او فلسفي نړۍ ليد پر بنسټ، ټول کاينات او په هغو کي نغښتي مخلوقات او موجودات د حق تعالی د ذات مظهر ګڼي :

نن د حال په ژبه وايم دا بيــــــــــــــــان زه
په هر ځيز کښي يم بينا، شنوا، ګويان زه
کُل اشيا زما مظهر دي په شپږ لـــــــــورو
په هر څه کښي يم بيناوته عيـــــــــــان زه

د خدای تعالی د ذات او صفتو ژوره او پېچلي عرفاني مسأله، په دي رساله کي تر بېل سرليک لاندي سپړل سوې ده . قدرمن لوستونکي کولای سي نور جزييات يې هوري وګوري .

### و) د هستی اونېستی يا وجود اوعدم عالم :

شېخ نسفي، په خپل لوړ عرفاني او فلسفي اثر « انسان الکامل » کي د وجود او عدم د عالمو په باره کي هم خورا په زړه پوري بحثونه کړي دي . د ده په عقيده، هستي او نېستي يا وجود او عدم، دوه بېل عالمونه دي . دی وروسته کاږي : د وجود په جهان کي ډېر خلګ ژوند کيي . د عدم په جهان کي هم بي شماره مخلوقات استوګه لري . هر څه چي د هستی په عالم کي ليدل کيږي، د هغو ذات د نېستی په عالَم کي هم سته . دغه راز، هرهغه څه چي د عدم په عالم کي نېست يا معدوم دئ، علت يا سَوَب ( سبب) يې د وجود په عالم کي هم نغښتي دئ . د وجود او عدم ترمنځ لويي لاري او غټ توپيرونه نسته . دا دواړه عالمونه، يوله بله تړلي دي[۲۵] .

نېستي یا عدم د لنډیز یا اجمال عالم دئ . هستي یا وجود د بشپړتیا یا تفصیل عالَم دئ . عدم ساده لوحه ده؛ خو وجود له نخشونو ( نقشونو) ډکه لوحه ده . که منقشه لوحه له نقش و نِګاره پاکه سي، بیا نودا لوحه د عدم په عالم پوري اړه پیدا کیي . بالعکس، که ساده لوحه په نخشونو ښکلي سي، هغه مهال نو دا لوحه د وجود د جهان په یوه برخه اوړي . هره ورځ د نېستی له عالَم څخه د هستی عالم ته، څوکاروانونه رهي دي . په همدې ډول، د وجود یا هستی له عالَم څخه هم هره ورځ د عدم عالَم ته څو کاروانونه د سفر په حال کي دي؛ او څه موده په هغه عالم کي پاتیږي[٢۶] .

د ناسوت، ملکوت او جبروت په باب د عارفانو له نسبتاً متفاوتو نظریو څخه داسي بریښي، چي د جبروت عالم، همدا د نېستی جهان دئ؛ خو ناسوت او ملکوت د و جود دوه بېل عالمونه دي .

د شېخ نسفي په اند، د مفرداتو ماهیتونه د جبروت له عالم څخه راغلي دي؛ خو بیرته هغه عالم ته نه ورځي؛ اود نېستی په برخه نه اوړي[٢٧]؛ حال دا چي د مرکباتو ماهیتونه هم د جبروت له عالَمه راځي؛ او له هغه ځایه د وجود جامه اغوندي؛ خو بیرته د جبروت عالم ته ستنیږي؛ اوهورې د عدم یا نېستی له دریاب سره یوځای کیږي . د شېخ نسفي په باور، ماهیت تر وجود او عدم دواړو عامه بڼه لري . له دې امله کله د موجود، کله د معدوم او کله هم د ممکن په بڼه څرګندیږي . شېخ نسفي په خپل بل عرفاني اثر « زبدة الحقایق » کي د وجود او عدم د عرفاني - فلسفي مفهوم په باب داسي کاږي : « د شیانو هستي او نېستي یا وجود او عدم په دې مانا دئ، چي له قوې څخه فعل ته ځي؛ او له فعل څخه قوې ته[٢٨] . »

شېخ نسفي په خپل بل ارزښتناک عرفاني اثر « کشف الحقایق » کي د هستی او نېستی په اړه د وحدت د عرفاني او فلسفي مکتب د پلویانو نظریې داسي بیانیي : « د وجود او عدم تر منځ واسطه نسته . دا دواړه یو د بل ضد دي . له دې امله، چي د ضدینو تر منځ یووالی او یوځای والی نسته؛ نو هستي او نېستي هم په یوه وخت کي نه یي[٢٩] . » ( د وجود، عدم، او ممکن په باب د نورو مالوماتو دپاره وګورئ : واجب، ممکن او ممتنع) .

زموږ فکور عرفاني شاعر، علي محمد مخلص، په خپل پښتو دیوان کي د هستی او نېستی یا وجود اوعدم په اړه هم خورا لوړي نظریې وړاندي کړي دي . په یوه غزله کي د هستی اونېستی د عالمو ژورعرفاني او فلسفي مفهومونه داسي راپېژني :

نور هستي، ظُلمت نېستي ده که باورکړې!
له ظُلمته شه ښکاره د جـــانِ جان مخ
هستي پټه په نېستی کښي ده یقیـــن کړه !
له ظُلمته شه ښکاره د نور روښان مخ

د همدې غزلي په دوو نورو بیتوکي د خالق تعالی ذات د هستی داسي عالم ګڼي، چي په یوه سرسري نظر نېست یا غیر واقعي ښکاري؛ خو په حقیقت کي د ټولو ظاهري هستییو زېږوونکی دئ؛ او د ټولو موجوداتو د نېستولو پرېکړه هم یوازي دی کیي :

دا جهان ګوره نېستي مولا هستــي ده
له نېستییه شه ظاهر د جـانِ جان مخ
دا عالم کُل له نېستییه څرګنــد شوئ
دا نېستي عینِ هستي وینم تابان مخ

## ز) د وحدت او کثرت عالم :

په « فرهنګ لغات و تعبیرات عرفاني » کي د وحدت او کثرت په باب داسي راغلي دي : « د و حدت یاني یووالي او یګانګي . د حقیقي وحدت مقصد د حق تعالی وجود دئ . کثرتونه د هغو اعتباري چارو مراتب دي، چي د تعیناتو د رحماني فیض د نوښت په وجه، نمودي او ظاهري موجودیت لري[۳۰] . » د همدې فرهنګ په یوه بله برخه کي د وحدت او کثرت په اړه داسي کښل سوي دي : « د غیب او شهود عالَم واحد وجود دئ ، چي د تجلیاتو د مراتبو له مخي د کثرتو په بڼه اوښتئ دئ؛ او په هر مظهر کي یې ظهور کړئ دئ . هغه څوک، چي د کشف او شهود پړاو ته نه یې رسېدلئ؛ له وهم او خیال سره لاس او ګرېوان یې؛ او د کاملانو له خوا نه یې منل سوئ؛ تل استدلال کیي چي د شیانو شمېر حقیقي دئ نه اعتباري؛او په پای کي د کثرتو د غیریت څرګندیدل وهم او خیال دئ[۳۱] . . . »

د حق تعالی هستي هغه واحد حقیقت دئ، چي باطن یې د خپل بشپړ وحدت پر بنسټ، له هر ډول تفرقي او کثرته پاک دئ؛ او ظاهر یې د کثرت د ننداري اصل او منشأ ده . دا کثرتونه خیالي او ظاهري دي، نه ریښتني او حقیقي[۳۲] . حقیقت د دریاب د اوبو په څېر دئ، پدیدي او پېښي د څپو او کوبیو په شان دي . په سطحي او سرسري نظر کي داسي برېښي، چي څپي او کوبی بېل حقیقتونه دي؛ خو په ژوري او هر اړخیزي کتني سره له ورایه ښکاري، چي په دریاب کي یوازي او یوازي اوبه دي . نور هرڅه د اوبو داسي جلوې او مظاهر دي، چي جلا او خپلواک وجود نه لري . دا جلوې او نخښې په حقیقت کي، هغه څه دي چي ځینو عرفاني صاحب نظرانود هستي ډوله نېستی په نامه یادي کړي دي[۳۳] .

د کثرت ښبنتنان په حقیقت کي، هغه کسان دي چي غواړي د دوو هستیيو یا دوو وجودو ( قدیم او حادث) سته والی ثابت کړي؛ په داسي حال کي، چي د وحدت ښبنتنان په هر څه کي د یوه وجود د اثبات هڅه کیي . دا وجود د حق تعالی وجود دئ . وتلی او منلی عارف، شیخ عزیزالدین نسفي، د وحدت د فلسفي اوعرفاني تیورئ پلویان په داسي بڼه را پېژني : « د وحدت پلویان هغه څوک دي، چي د خدای تعالی پر هستی او یووالي، په زړه تصدیق او په ژبه اقرار کیي . دا هغه ډله ده، چي تر ټولو پردو او حجابوتېر سوي؛ او د خدای دیدار ته رسېدلي دي . دوی بې خدایه نه څه ګوري؛ او نه څه پېژني . په هر څه کي یوازي خدای ګوري او هر څه خدای ګڼي[۳۴] » .

مفکرعارف، شیخ نسفي، د توحید او وحدت د لوړو مقامو ترمنځ د دوو اړخیزو اړیکو په شنلو سره، عقیده څرګنده کیي، چي له کُوپْره ( کُفره ) تر توحیده، ډېره اوږده لار ده . د توحید او اتحاد ترمنځ هم خورا اوږده واټنونه پراته دي؛ مګر د اتحاد مقام ته په رسېدو سره دا لار نه ختمیږي؛ ځکه له اتحاده تر وحدته هم خورا ډېره لار په مخکي ده . وحدت د عرفاني سالکانو وروستی منزل دئ . د شیخ نسفي د عرفاني او فلسفي نړۍ لید له مخي، په توحید او اتحاد کي کثرت نغښتی دئ . یوازي په وحدت کي کثرت نسته . د کثرت په ورکېدو سره سالک له منځه ځي؛ شرک له منځه ځي؛ حُلول او اتحاد له منځه ځي؛ نیژدې والي او لیري والی یا فراق او وصال له منځه ځي . هغه څه چي پاتیږي، یوازي د لوی ښبنتن ذات دئ او بس .

د وحدت پلویان د خدای تعالی په هستی کي د ظاهراو باطن پرمسأله هم باور لري . د دوی له نظره، د دې وجود یا هستی باطن نور دئ ؛ دا نور د ټولوعالمو سا او اروا ده؛ ګرده کاینات له دې نوره مالامال دي؛ دا نور بې سر و بې پایه دئ؛ د ټولو موجوداتو زیست او ژواک، واک او اختیار، پوهه اوعقل له دې نوره سرچینه اخلي . لکه څنګه، چي د موجوداتو لیدل، کتل، ویل، جذابیت او ښکلا د دې نور له برکته دي، د موجوداتو طبیعت،

ځانګړتيا او فعل هم له دې نور سره تړلي دي . د دې وجود ظاهر د دغه نور خوشبويي يا د دې نور د صفتو نخښې او مظاهر دي[۳۵] .

د شېخ نسفي په عقيده د تقليد د ډلې پلويان هم وجود دوه ډوله بولي : حقيقي او خيالي وجود . د دوى په عقيده هم خداى نېستي ډوله هستي؛ او کاينات هستي ډوله نېستي ده . دا هستي اول و اخير، فنا و عدم، بدلون و اوښتون، شريک و مثال، مکان و جهت نه لري؛ حال دا چي ټول مادي عالَم له خپل ټول غځوالي او پراخوالي سره سره، داسي خيالي او نمايشي هستي ده، چي د خداى تعالى د وجود له نوره د حقيقت په څېر جلوه کيږي؛ خو په حقيقت کي يوازي عکسي او ظلي موجود دئ[۳۶] .

شېخ نسفي، په خپلو عرفاني ډکټورينوکي د وحدت د دغو دوو ډولو يادونه کيي :

- تر کثرت مخکي وحدت .
- تر کثرت وروسته وحدت .

د ده په اند، سالک د وحدت وروستي ډول ته په رسېدو سره له شرکه ژغورل کيږي؛ او د توحيد مقام ته رسيږي . حکيمان په لومړي وحدت خبر دي؛ مګر له دوهم وحدته بې برخي دي[۳۷] .

شېخ نسفي، د وحدت او کثرت خپل منځي اړيکو ته په کتو سره عقيده لري، چي که کثرت نه واى؛ نو وحدت به هم نه واى . ډېر يو کېداى سي، خويو هيڅکله نسي يوکېداى . د شيانو دا يوکېدل پر دوه ډوله دي : علمي توحيد او عملي توحيد . د توحيد د ښښتن نخښه داده که څه هم نمرود له ابراهيم سره په جنګ اوجګړه کي ګوري، خو هغه يوويني . د توحيد تر پاى ته رسېدو وروسته د وحدت مقام را رسيږي .

د شېخ نسفي له عرفاني نظريو سره سم، د وحدت مقام د خونخورو بيدياوو او دښتو په څېر دئ . هر څوک، چي تر دې سترو او ناپايه دښتو په سلامتى او برياليتوب سره تېر سو، پر هغه نو د موحد نوم ايښوول سمه او پر ځاى خبره ده . هغه څوک اوم او نيمګړى پاتيږي، چي تر دې دښتو په بشپړتيا او کمال سره ونه وزي . د وحدت په ناپايه دښتوکي د سرګرداني، ګمراهي او حتا هلاکت بېره ده .

د شېخ نسفي له دې استدلال څخه دا نتيجه اخيستله کيږي، چي د رېښتيني موحد مقام ته رسېدل، بې وحدته ناشونى کار دئ؛ او د وحدت لوړعالَم ته رسېدل هم يوازي د بېلابېلو خندو او حجابو تر ليري کولو وروسته مُيسر دي . په بله ژبه، د وحدت ډېر لوړعرفاني مقام ته يوازي د سير او سلوک د ټولو مقامو او منازلو تر تېرولو وروسته لار هواريږي . د وحدت مقام د سالکانو د عرفاني حقيقت موندني وروستى منزل دئ . هغه څوک، چي دې مقام ته ونه رسيږي، په حقيقت کي له هغه چا سره ورته والى لري، چي يو ځاى ته په تش لاس راغلئ يي؛ او بيرته په تش لاس ځني ولاړ سي .

که د پورتنيو عرفاني نظريو په رڼا کي د وحدت او کثرت عالَمو ته يوه لنده کتنه وکو، هر څه له خپلې پېچلتيا سره سره، ډېر روښانه او څرګند برېښي . وحدت، د سا او اروا په څېر د کايناتو د ټولو موجوداتو اصل او منشأ ، مبدأ او انتها ده . ګرده عالمونه او په هغو کي نغښتي مخلوقات، د حق تعالى د ابدي او ازلي، ناپايه او نامحدودي، بې مثله او بې ساري هستى زېږنده دي . د رېښتني پوهي او ذکاوت خاوندان، د کايناتو په هر موجود کي دا واحده هستي له ورايه ګوري . د شهود په دونيا کي ټول مادي او ظاهري موجودات د همدې يوې هستى د وجود بېلابېلي نخښي او مظهرونه دي، چي په فلسفي او عرفاني ژبه ورته د « کثرت عالَم » وايي . د تصوف او عرفان سالکان د کثرت په عالَم کي ټولو نغښتو موجوداتو ته د خيالي، عکسي او ظلي موجوداتو يا هغه څه په څېر

ګوري، چي خپلواکه او همېشنۍ هستي نه لري . د فنأ او بقأ یا هستی او نېستی پرېکړه یې تل د وحدت له بې مثاله عالَم څخه راځي .

روښانیان هم د نورو عرفاني لارو په شان د وحدت مقام ته په خورا درنه او لوړه سترګه ګوري . وحدت د روښاني عرفاني طریقت له اتو مقامو څخه اووم مقام دئ . د« وحدت الوجود » او « وحدت الشهود » تر سرلیک لاندي مو د پیر روښان او علي محمدمخلص ځیني فلسفي او عرفاني نظریې په لنډه توګه سپړلي دي . دلته کوښښ کوو، چي د مخلص په عارفانه کلام کي د وحدت او کثرت د پېچلي فلسفي او عرفاني مسألي و ببلابېلو اړخو ته یو ځغلنده نظر وکو. مخلص، په یوه الفنامه کي د وحدت او کثرت عرفاني مفهومونه داسي بیانيي :

یو وحدت دئ تجـــلی که
د ظهور نوم یې کثرت شه

***

**و وحدت دئ مُنتشر شه**
**د کثرت په موی ببر شــه**
**دی لطیف دریا بې حده**
**د کثرت په ځګ اغبر شــه**

په بله غزله کي د وحدت او کثرت جهانونه، له اروا او کالبوت سره تشبیه کيي؛ او د صورت ژوند او مړینه په اروا پوري تړلي ګڼي :

د وحدت دریا ارواح کثرت صورت شه
د صورت ونه په روح ګورم ګلبېزه

مخلص هم د وحدت د فلسفي او عرفاني تیوری د نورو مخکښو صاحب نظرانو په څېر، د ټولو کایناتو په زیست او ژواک، پالنه او روزنه کي د یوې بې ساري هستی لاس ویني؛ او بې دی هستی هر څه ته د نېستی او نابودی په سترګه ګوري :

د وحدت په نو تازه د کثرت ونه
بې اوبو شي سر ته پایه ونه وچه

***

دا وحدت مثـــال اوبه شه
پري سېراب د کثرت چېن

***

د یوه وحدت بساط دئ غــوړولئ
دي حیوان، نبات، جماد پر باندي کوټي
د وحدت په نو زرغون ګلزار لیده شي
په دا باغ کښي که پتله ویني یا مــوټي

بل ځای د ښکلي انځور په وړاندي کولو سره بیا هم د وحدت جهان له بې حدوحصره بحر اوکثرت له وچي سره تشبیه کيي؛ او عرفاني سالکانو ته سلا ورکيي، چي د خپل اصلي رسالت پر بنسټ د هغه بحر تل د رسېدو په هیله غوټي ووهي، چي ټول عالَمونه یې په غېږ کي نغښتي دي :

وحدت بحر کثرت بر شه

ته بحري بحر ماوا کړه!

دی مکان د هر مکان دئ

ته د لا مکان ثنـــــا کړه!

په بله غزله کي وحدت د پديدو ماهيت او کثرت د هغو ظاهري بڼه بولي :

دا وحدت مثال اوبه کثرت پر يـخ شه

دغه يخ شه په ځو رنګه په ځو نام دئ

دا وحدت په مثال ببخ کثرت ښاخونه

د يوه ميوه پخه د بل خو خــام دئ

د اسلامي تصوف او عرفان علمبردارانو، په خپلو عرفاني او فلسفي ليکنو کي د بحرو ساحل ته د نبستی؛ او ځپو ته د هستی په سترګه کتلي دي؛ او تل يي د پټو حقيقتو پلټونکو ته خبرداری ورکړئ دئ، چي پر ساحل باندي د ځګو او کوبيو له ننداري څخه هيڅ نسي موندلای . له دي امله بايد د ناپايه او لايزاله هستی دپيژندني او وصال په هيله د غواصو په شان د درياب په تل کي غوټي ووهي . زموږ ژور انديشه عارف، علي محمد مخلص ، هم د همدي فلسفي او عرفاني دريځ په لرلو سره، په يوه غزله کي د وحدت ناپايه او بی مثله عالَم له سمندر او کثرت له ځګ سره تشبيه کيي :

زه په ځو کړم د بي حد درياب تعريف

دی بی چون و بی چګون، خبير، لطـيف

د وحدت د دريا حد، نهايت نشــــــته

درست کثرت ورباندي ځګ وينم کثيف

چي نظر يي له کثيفه ځګه تېر شـــه

دا عارف دئ د روښـــان د يار حريف

***

اي مخلصه وحدت بحر، کثرت ځک دئ

که عارف يي مشغول مه شه له ځـــګه

ښرګنده ده، چي د وحدت مقام ته رسېدل د هر عارف کار نه دئ . دي لوړ او ستر عالَم ته رسېدل، يوازي د هغه عرفاني سالک د وس خبره ده، چي زړه د دونيا او عقبا له لومو وژغوري؛ او يوازي د معشوق په سوځونکي مينه ژوند او مستي وکړي . مخلص، د نورو عرفاني سالکانو په وړاندي، د موحد عارف دا منزلت په دي ډول ښيي :

اي مخلصه! د وحدت په ملک يکرنګ دئ

د کثرت په ملک ښرګند شه په ځو سوانګه

په يوه څلوريځه کي د وحدت او کثرت ژور عرفاني مفهومونه، د لمر او سېوري په مجازي سمبولو کي بيانيي :

د حق ذات لکه آفتـاب دئ

محمد تر ميان سحـاب دئ

دا کثرت د اورو سپوری

بې اورو سپورې خراب دئ

په بله ځلوريځه کې د حضرت محمد ( ص ) هستي د وحدت د ګل خوشبويي ګڼي :

دا کثرت مثال لبـــاس شه

جهان ګل حضرت يې باس شه

نور عالَم لکه تن ګــوره!

د احمد نور د تن راس شـــه

د وحدت او کثرت د عالمو په بيان کې زموږ د نکته دان او بيدل شاعر، علي محمد مخلص، نظريې خورا درنې او ژورې دي . هغه،

په يوه غزله کې د وحدت د عالَم بې مثاله سکون اود کثرت د عالَم بې ثباتی او ناکراری ته داسې ګوته نيولې ده :

په کثرت کې شر و شــور دئ

دا وحدت د آرام کـــور دئ

د وحدت حال مې روزي کړه!

چې يوځان وينم شيږ لـــوره

مخلص، په يوه الفنامه کې د وحدت د هغو شرابو په باب خبرې کيږي، چې عارفان يې په څښلو ابدي ژوند بې بديله نعمت ترلاسه کيږي :

م مست مـــی د حق شراب دي

چې يې وڅښې يې سېراب دي

چې يې نوش د وحدت مې کړه

تر ابده دوی خـــراب دي

په يوه پارسي مثنوي کې د کايناتو ټول موجودات د يوې هستی يا يوه کُل بېلابېلې برخې او ټوټې ګڼي . له دې امله د ده په نظر هوښيار او عاقل هغه څوک دئ، چې يخی د کثافت له اسيته د اوبو له لطافت څخه جلا نه کې؛ څګونو، کوبيو او اوبو ته د يوې مادې د بېلابېلو بڼو په سترګه وګوري :

« . . . عاقل بينا کسی بينی در جهـــان

که بديده آب و يخ هردو عيـان

آب را يخ داند و يخ عين آب

آب وحدت بيند وکثرت حُبـــاب

وحدت و کثرت دو نام است در جهان

چو حُباب و آب دو اسم است هـــان

هردو يک چيز است در ذات ای عزيز

شرک اينجا می نه ګنجد کُن تميز۳۸ . . . »

مخلص، په يوه پارسي قطعه کې د لطا فت او کثافت، کُل او جزء ترمنځ هغو بدلونو ته اشاره کيې، چې د وحدت لوړعرفاني مقام ته رسېدلئ عارف يې په ځان کې ګوري :

« گاه بینم خویش را چون بحر پاک
گاه خورد یخ بدانم مــن ز آب
نیست غیریت میان آب و یــخ
جز که نامش بشنو ای مـرد ثواب۳۹ »

( د وحدت په باب د نورو مالوماتو دپاره وګورئ : توحید او دهغه ډولونه ( عام، خاص او خاص الخاص توحید )، وحدت الوجود او وحدت الشهود .)

## ح) بسیط او مرکب عالم :

د بسیط عربي ټکی په لغت کي د کوچني، لږ ، سخي، لاس خلاصي، پراخ، غوړولي، ساده، سپېڅلي، بې تکلُفه، بې غل وغشه، خالص او داسي نورو په ماناوو کاريږي۴۰ . دا ټکی دعروضو په پوهه کي د یوه بحر نوم دئ؛ او په کېمیا کي هم د خالص یا نامرکب په مانا خورا ډېر او پراخ استعمال لري . د مُرکب عربي ټکی له لغوي پلوه، د ترکیب سوي، ګډسوي، تړل سوي، نصب سوي، جوړ سوي، بندسوي او داسي نورو په ماناوو راغلئ دئ۴۱ .

په تصوفي او عرفاني بحثو کي بسیط عالم د ارواو د عالم په مفهوم کاريږي . په دې عالم کي هر څه سوچه او خالصه بڼه لري . د ارواو د عالم ټول موجودات د کثرت وعالم ته د خپل نزول تر ببلابېلو پړاوو وروسته د کثافت او ترکیب په بڼو څرګندیږي . په بله ژبه، له اُلطُف او لطیف عالمو څخه راپيداسوي موجودات، د کثرت جهان ته تر رسېدو وروسته دکثافت بڼه اخلي . د تصوف او عرفان مخکښ مفکران جماد، نبات او حیوان د مرکب عالم په مانا کاربي .

زموږ د سترګه ور عرفاني او فلسفي شاعر، علي محمد مخلص، په ژوره عارفانه شاعری کي، بسیط او مرکب عالمونه زیاتره د اُلطف ، لطیف او کثیف په عرفاني نوموبیان سوي دي . دا مسأله مو د « کثیف، لطیف او اُلطُف » تر جلا سرلیک لاندي، په لنډه توګه څېړلي ده؛ ګران لوستونکي يې هلته کتلای سي.

## ط) لوی او کوچنی ( کبیر او صغیر ) عالم :

د اسلامي تصوف او عرفان په ځینو منظومو او منثور آثاروکي کله کله له یوې عرفاني او فلسفي اصطلاح سره مخامخ کیږو، چي د « کبیر او صغیر عالَم » یا « لوی او کوچنی عالم » په نامه یادیږي . د « لوی عالَم » اصطلاح، لکه څنګه چي له نامه څخه يې ښکاري، د حق تعالی په جوړو سوو عالمو کي هغه ستر او ناپایه عالَم ته اشاره ده ، چي ځینو عرفاني مخکښانو يې د « جبروت عالَم » ، د « نیستی یا عدم عالم » ، د « ممکناتو عالم »، د « ماهیاتو عالم »، د « حقیقتو عالم »، د « کُلیاتو عالم » او داسي نورو په نومو هم یادونه کړې ده ( د همدې لیکني په مخکنی برخه کي مود « جبروت عالَم » تر عنوان لاندي د دې لوی او پراخ عالَم په باب لنډي خبري کړي دي) .

د « کوچني عالَم » اصطلاح په حقیقت کي د انسان وجود ته اشاره ده، چي د خپل بې ساري جوړښت له امله يې د « لوی عالَم » ټولي ځانګړتیاوي په ځان کي نغښتي دي . د دې اريانونکي موجود ( انسان) دد اسي بې مثله صفاتو او ځانګړتیاوو عرفاني او فلسفي ريښه، په قرآني نصوصو او نبوي احاد یثو کي په ډېروڅرګندو او روښانو ټکو بیان سوې ده .

د قرآني آيتو او نبوي حديثو له مخي، انسان د لوی ښښتن په ناپایه مخلوقاتوکي تر ټولو ستر، غوره او بی ساری مخلوق دئ ؛ د مثال په توګه، د بقرې دسورې په دېرشم آيت (۲: ۳۰) ( و اذ قال ربک للملایکة انی جاعل فی الارض خلیفة) کي د حق تعالی له خوا د مځکي پر مخ د انسان د خلافت مسألي ته اشاره سوې ده . دبقرې د سورې په يودېرشم آيت ( ۲: ۳۱) « وعلم آدم الاسمأ کلها » کي انسان ته د ټولو موجوداتو د نومو، ماهيتو او ځانګړتياوو د ښوولو بيان راغلئ دئ . د بقرې دسورې په دروډېرشم ( ۲: ۳۳ ) آيت ( واذ قلنا للملايکة اسجدوا لآدم فسجدو الآ ابليس) کي انسان ته د سجدې کولو په باب، د هغه الهي فرمان يادونه سوې ده، چي د الهي مخلوقاتو په ډله کي د انسان د ستروالي او عظمت خورا لوی ثبوت دئ . د تين د سورې په ځلرم آيت ( ۹۵ : ۴) ( لقد خلقناالانسان فی احسن تقويم) کي د انسان ظاهري او باطني فضيلتو ته ګوته نيول سوې ده . د بني اسراييل ( اسرأ ) د سورې په اويايم آيت ( ۱۷ : ۷۰) کي د انسان د شان او مقام په اړه داسي روښانه ټکو خبري سوي دي : « و لقد کرمنابنی آدم . . . » ياني په ريښتيا سره موږ د آدم بچيانو ته ډېر عزت او وياړ ورکړئ دئ . په يوه قدسي حديث کي د مؤمن انسان د زړه د لويوالي په باره کي داسي يادونه سوې ده : « لا اسع فی الارض و لا فی السماء ولکن اسع فی القلوب المؤمنين » ياني زه په مځکه او اسمانو کي ځای نه سوم؛ خو د مؤمنانو په زړو کي ځای سوم . د رسول الله ( ص) په يوه مبارک حديث کي د مؤمن د زړه ولوی والي ته داسي اشاره سوې ده : « قلب المؤمن اکبر من العرش و اوسع من الکرسی » ياني د مؤمن زړه تر عرش غټ او تر کرسی پراخ دئ . دا ټول قرآني نصوص او احاديث د انسان د روحاني او عرفاني بشپړتيا ښکارندوی دي . انسان د عرفاني تکامل او بشپړتيا په دې لوړ پړاو کي له خپل ظاهراً کوچني وجود سره د لوی عالَم د نومو او صفتو د ځرګندو نخښو يا ځلېدونکي هينداري په توګه ظهور مومي . له دې جهته ناڅاپي نه ده، چي ځيني مفکر عرفاني مخکښان انسان ته د شکل او صورت له پلوه د« کوچني عالَم »، اود حق تعالی د خلافت لوړ او ستر مقام ته د رسېدو له پلوه د « لوی عالم » په سترګه ګوري . د انسان په وجود کي د دوو عالَمو ( لوی او کوچني) يوځای والی، پخپله د ستر او بی مثله ښښتن د قدرت او عظمت تر ټولو روښانه ثبوت او انکار نه منوونکئ مصداق دئ .

د اسلامي عرفان وتلی او منلی لاربنود- مولانا جلال الدين بلخي رومي ( ۶۰۴ - ۶۷۲هـ ق) په خپل ستر عرفاني شهکار « مثنوي معنوي » کي د انسان د وجود همدا کوچني او لوی عرفاني عالم داسي بيانيي :

گفت پیغمـبر که حق فرموده است
من نگنـــــــــجم هیچ در بلا و پست
در زمین و آسمان و عرش نـــــــــــیز
می نگنـــجم این یقین دان ای عزیز
در مؤمن بگنجم ای عـــــــــــــجب
گر مرا جوئی در آن دلهاست طـلب
پس به صورت عالَم اصغر تـــو یی
پس به معنی عالَم اکبـــر تویـــــــی

صاحب نظر عرفاني مفکر - شيخ عزيزالدين بن محمد نسفي ( ۶۳۰ - ۷۰۰ هـ ق) په خپل ژور عرفاني اثر « انسان الکامل » کي له کوچني عالَم څخه لوی عالَم ته د عرفاني سالک د بشپړتيا او کمال په باب ليکي : « سالک، په خپل سلوک کي تر صغير يا کوچني عالَم ( د صفتو اواخلاقو ګرده ظاهري مرتبې) تېريږي او لوی عالَم ته رسيږي، چي په هغه پړاوکي د خدای د نايب يا خليفه په توګه ټاکل کيږي . په دې مرحله کي د ده

خبره د خدای خبره؛ او د ده عمل د خدای عمل یي . دي درجي یا مرتبي ته تجلی اعظم یا لو( لویه) روښا وایي؛ ځکه دلته اخلاق او پوهه دواړه ځرګندیږي . په دې پړاو کې د ناسوت او ملکوت عالمونه، د کوچنیو عالَمو په توګه، د لوی عالم ( جبروت) ځرګندونه کیي . په بله ژبه، په دې پړاو کې د لوی عالم ( جبروت) هر څه په کوچنیو عالمو ( ناسوت اوملکوت) کې انعکاس مومي ۴۲.

زموږ فکور شاعر ، علي محمد مخلص، په یوه ژوره عرفاني او فلسفي غزله کي د لوی او کوچنی عالَم عرفاني مسأله د « صغیر او کبیر انسان » په نامه یاده کړي ده . د ده په نظر، کاینات له داسي جسم یا وجود سره ورته والی لري، چي حق تعالی یي اروا او انسان یي زړه دئ . مخلص، په دې ظریف انځور کي د جسم، زړه او اروا نه شلېدونکو اړیکو ته په پام سره د لوی او کوچني عالَم عرفاني او فلسفي مانا داسي راښیي :

چي یي زړه د معرفت په نور مُنــیر دئ
په هستی د هر اشیا علیـم، خبیر دئ
په یوې هستیيه هست کُل اشیا ګـــوري
په جهان کښي چي موجود صغیر، کبیردئ
کل جهان لکه صورت انســان یي زړه شي
حق په هر افراد محــیط زړه یي سریر دئ
روح داخل نه خارج یاد دئ په صـــورت کښي
د حق هسي رنګ کُلیــات سره نظیر دئ
روح دریاب، صورت ماهی دئ په دریاب کښي
هم پکښي هم تري چوپیر د بحــر نـیر دئ
دا محیط دریا ارواح، عالَم صـورت شه
دا عظیم ارواح د جسم په تد بیردئ
دا صورت لکه قلم د روح په لاس کښــي
حرکت، فعل یي واړه له دبــیر دئ
په خپل خواست یي کښېنوي، هم یــي ولاړ که
دا غریب صورت د روح په لاس اسیــر دئ
دا بي حد تر لویه لوري چي لیـــده شي
دا صورت عالَم ذره غوندي صغیر دئ
پر هر لوري یي جارباسي بي اختیــاره
د صورت عالَم بنه، باد یي امیر دئ
پر هر لوري چي رضا هوري یي بیــایي
کُل عالَم مثال کودار، مولا یي هــیر دئ
هر زنده یي د نفس په مهـار ونـیو
بنه مولا مانند ساروان، زنده بعیر دئ
د ساروان په لاس مهار پر سمــه لار ځــي
په ساروان پسي روان د اوښ بهیر دئ

چي په هره لار يي بيـــايي پسي درومـي
دعاجز شتر ساروان پسي مصـير دئ
څوک بهښت، ځيني دوزخ ته ځي مخلصه !
د جمال، جلال صفت يي دستگير دئ

مخلص، په يو ژور او ظريف بيان کي د دوو داسي لا مکانه او بي مثله هستيو د يووالی مسأله انځوري، چي يوه يي د لوی ښبنتن ناپايه او بـــي مثله هستي ( لوی عالَم) او بله يي د مؤمن د زړه بي ساري او ستره هستي ده، چي په صوري او شکلي لحاظ « کوچنی عالَم »؛ خو په مانا کي د « لوی عالم » ښکارندوی بلل کيږی :

د مؤمن زړه لامکان، مکـان يي نشته
لامکان په لامکان کښي ځان گنجان کړ
بي جهت به په جهت کښي که استوگــه
دي بي مثله په بي مثله کښي آستـان کړ
د بي حد په بي حدييه کښي مـاوی شي
هم بي چون په بي چونی کښي ځان نهان کړ

د مخلص د عرفاني نړۍ ليد له مخي، د « لوی عالَم » و مقام ته رسېدل يوازي هغه مهال ممکن دي، چي عرفاني سالک پر صغرا او کبرا برزخو سربېره د فنأ او نېستی مقام يا ځای ته هم ځان ورسيي، چي هورې د عابد و معبود او عاشق و معشوق تر منځ ټول حجابونه ايسته کيږي :

چي کامل د هدايت آفـتاب څرگند که
شوپرک ځني گوښه نيسي د وختـه
ترکبرا برزخ به څرنگه تېـــريږي
چي حيران وي د کامل صغرا برزخ تـــه
څو دا دواړه بر زخ طی نه کړي د وړاندي
ور به نشي د وليانو و شمخ تـــه
د هستی برزخ به چري ورڅرگند که
څو ور نشي د نېستييه و دوزخ تـــه

د نورو مالوماتو دپاره و گورئ : برزخ، روح، زړه، دونيا، عقبا او مولا .

**لمنليکونه**

١ عميد ٣: ١۶٩۵؛ . Wehr 636
٢ نسفی، انسان الکامل ١٧٢.
٣ سجادی ٣٢۶ – ٣٢٧ .
۴ سجادی ٢٩٣؛ نسفی، انسان الکامل ١٧۴ ؛ نيرومند محقق ٢٧ .
۵ رزمجو ٢٠۵.
۶ نسفی، انسان الکامل ١٧۴ .
٧ نسفی، انسان الکامل ٣۵

٨ نسفی، انسان الکامل ١۶٣ ؛ نیرومند محقق ٢٧ ؛ سجادی ٢٢٧ - ٢٢٨، ٢٩٣، ۴٨٣ .
٩ نسفی، انسان الکامل ١٧٨.
١٠ نیرومند محقق ٢٧ .
١١ سجادی ١۵١ .
١٢ نسفی، انسان الکامل ٣۴٧ ، ٣۵٧ .
١٣ نسفی، انسان الکامل ١۵٨ ، ١٧٨- ١٧٩.
١۴ نسفی، انسان الکامل ١۵٨ .
١۵ نسفی، زبدة الحقایق ٧٨.
١۶ نسفی، انسان الکامل ١۶٠ - ١۶١ .
١٧ نسفی، انسان الکامل ١٧۴ .
١٨ سجادی ٣٢٨ .
١٩ نیرومند محقق ٢٧ .
٢٠ سجادی ٣٢٨ .
٢١ سجادی ٣٢٨ .
٢٢ ابن عربی ٢١۵ .
٢٣ نسفی، انسان الکامل٣٧۶ .
٢۴ نسفی، انسان الکامل ٣٨٢ .
٢۵ نسفی، انسان الکامل ١٧١ .
٢۶ نسفی، انسان الکامل ١٧١ .
٢٧ نسفی، انسان الکامل ١٧٠ .
٢٨ نسفی، زبدة الحقایق ۶۵ .
٢٩ نسفی، کشف الحقایق ٣۴ .
٣٠ سجادی ۴٨٣ .
٣١ سجادی ۴٨۴ .
٣٢ یثربی، عرفان نظری: تحقیقی در سیرتکاملی و اصول و مسایل تصوف ٣٨ .
٣٣ یثربی، عرفان نظری : تحقیقی در سیرتکاملی و اصول و مسایل تصوف ٣٨- ٣٩ .
٣۴ نسفی، انسان الکامل ۴۵ .
٣۵ نسفی، انسان الکامل ۴۶ .
٣۶ نسفی، انسان الکامل ۴٢٣ .
٣٧ نسفی، انسان الکامل ١٧٩.
٣٨ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ٣۴١ - ٣۴۴ .
٣٩ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ٢۶٨ .
۴٠ عمید ١ : ۴٢٠ ؛ Wehr 58.
۴١ عمید ٣ : ٢٢٢٣ ؛ Wehr 357.
۴٢ نسفی، انسان الکامل ۵۴ - ۵۵، ٨۵ .

پاته لري